AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۱/۰۲/۲۲

# دامریکایی پوځی اډو مثبت او منفی اړخونه

ښکاره خبره ده چی د امریکایی پوځی اډو شخه مو موخه داګړی د افغانستان داوسنی کړکیچن حالت په تړاو سره په پام کی نیولی ده. د دا ډول اډو خبره ډیره نوی او یا هم دانتظار ځخه وتلی موضوع نده. په ۲۰۰۱ کال دامریکایی بم غورځونکو الوتکو په مټ دطالبانو د واکمنی له ختمیدو وروسته د بوش د اداری ځخه نیولی بیا تر دا اوسه پوری ددغو اډو په هکله دیوه ټاکلی انتروال په تیریدو داخبره یو وخت بل وخت دیوه لوړ پوړی امریکایی چارواکی لخوا راپورته شی او ځو ورځی وروسته دیوه بل لوړ پوړی لخوا رد شی. معلومیږی چی داموضوع داوسنی جندا یوه نه پریښودونکی برخه ده او ترشا یی څه داسی موخی پټی دی چی له مخی یی داخبره نه به زغرده مطرح کیدلای شی او نه هم ورڅخه صرف نظر کیدلای شی. کله په تاوده ډول دمیډیا په خوله کی ورکول کیږی چی ذهنیت وربانDی وازمایل شی اوکله بیا په طبعی ډول له میډیا نه وایستل شی ځو د رامنځته شوی ذهنیت دځیرلو دپاره وخت ترلاسه شی. داکار نژدی یوه لسیزه همداشان روان وو، خو داځل داسی ښکاری چی دسیمی دهیوادونو اونړیوالو زبرځواکونو ذهنیت هم وربانDی ازمایل کیږی.
داګړی پدی خبره باندی رسنیۍ یوځل بیا ښه لګیا دی او هر ځیرونکیۍ دځپل فکری خط سره سم دځپل نظر ځرګندونی وربانDی کوی. دی خبری دهیواد په دننه او دباندی کی بیلابیل غبرګونونه راپارولی دی. دحکومت غړی، دملی شورا غړی او سیاسی کړیۍ هریو ځپل نظر لریچی زما په خیال داطبعی عمل دی او باید همداسی وی.
مخکی لدی نه چی زه دځپل نظر ټکی ځرګند کړم، غوره ګڼم چی په نړی کی د امریکایی اډو په اړوند لنډ مالومات لوستونکو ته وړاندی کړم . تیرکال می دجولای په میاشت په انترنیټی سرچینو کی دالجزیری په سایټ کی په دانګریزی ژبه یولنډ ولی اړین مالومات ترسترګو شو، هغه می په تلو تلو کی وژباړه چی له نیکه مرغه تر اوسه لا هم دځو ورانوونکو ویروسونو دراتلو سره سره دکمپیوټر په ارشیف کی پاته او دزمانی بادونو وهلی ندی. دادی هغه کرښی له ارشیف نه رااخلم ځو دلوستونکو سره یی په ګډه یوار بیا ولولم :
(. . . پاول جیورج بالیس لیکی چی امریکا همدا اوس سره لدی چی شوروی اتحاد ډیر کلونه پخوا لا له منځه تللی او نور یی تهدید شتون نلری، بیاهم د ځپل هیواد د باندی په نورو هیوادونو کی ۱۰۰۰ پوځی اډی لری چی ډیریۍ یی د شوروی لخوا دتهدید په وړاندی ځای پرځای شوی وی. دغو اډو ته اوس هیڅ ډول اړتیا نشته او کیدلای شی پخبله دامریکا په زیان تمامی شی. دی وایی چی د رسما اعلان شوو اډو شمیر ۷۰۲ دی او په ۱۳۰ هیوادونو کی پرتی دی. د امریکا ځینی پټی اډی او هغه اډی چی په نژدی ختیځ کی ځای پر ځای دی ، پدی شمیر کی نه راځی . لدی نه پرته امریکا دځپل هیواد په دننه کی ۶۰۰۰ اډی لری چی پدی توګه یی دځمکی کره په ځپلو پوځی ګارنیزونو باندی احاطه کړیده. پوځی تاریخپوه جلمیز جونس وایی امرکایی اډی دانترکتیدا ( جنوبی قطب ) پرته په نورو ټولو لویو وچو کی شتون لری چی یو ډول نظامی امپراتوری یی منځته راوستی ده. په ۲۰۰۹ کال په نړیۍ کی دامریکایی اډو شمیر و ۱۰۰۰ ته ورسیدی او داکار دنړیۍ به تاریخ کی ساری نلری.
د وینیس پنامه یو امریکایی ځیرونکیۍ لیکی چی پنتاګون به رسمی ډول د ځپلو ۸۶۵ اډو دپاره سایټونه لری، مګر ښکاره ده چی زموږ د پوځی اډو شمیر لدی نه زیات دی. دی زیاتوی چی امریکا همدا اوس اوس په عراق کی له سلو ځخه زیاتی او په افغانستان کی له ۸۰ نه زیاتی اډی ځای پرځای کړیدی، ولی له دغو ځخه پرته یوشمیر نوری پټی اډی هم لری. وینیس زیاتوی، سره لدی چی د دوهم نړیوال جنګ او دکوریا دجنګ نه تر نیمی پیړیۍ زیات وخت تیر شویدی مګر بیاهم امریکا په جرمنی کی ۲۶۸ اډی، په جاپان کی ۱۲۴ اډی او په جنوبی کوریا کی ۸۷ اډی ساتلی دی. امریکا دځپل دغه کار لامل داسی په ګوته کوی چی دا اډی باید په نوموړو هیوادونو کی حالات ترنظر لاندی وساتی ځو د دوهمی نړیوالی جګړی او دکوریا دجګړی په شان جګړه ایز شرایط منځته را نه شی. امریکایی اداره و ګانګرس او اولس ته ددی اډو دشته والی اوساتلو موضوع دامریکا دملی امنیت دپاره د اړتیا له مخی ښییۍ. مګر د ویټنام سره جګړی وښوده چی نوموړو پوځی اډو موږ له ناکامی او ماتی ځخه و نه ژغورلو. دا ډول اډی او جګړی د امریکایی مالیه ورکونکو په زیان دی خو د جنګی سامان الاتو دتولیدونکو شرکتونو په ګټه دی. ډیری اډی دنړیۍ پداسی سیمو کی پرتی دی چی له هغه ځایه امریکا ته هیڅ ډول خطر او تهدید ځیرمه ندی. دغو اډو داړوندو سیمو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اوسیدونکی دستونزو او ان دخطر سره مخامخ کړی او پدی توګه یی د امریکا په وړاړندی ددوی غوصه او تنفر راپاروِلی دی .
دبل لوری داچی نظامی پرسونل پدغو اډو کی اړینه بوختیا نلری، نو په نشه ای توکو روږد او اخته کیږی، الکولو ته مخه کوی او دایم الخمر نیمګړی انسانان تری نه جوړیږی. داټول هغه څه دی چی فحشا او نور اخلاقی فسادونه لکه جنسی تیری او نور ور نه زیږی. دا ډول بی لاری شوی وسلوال کسان هلته دخپلو میشتو اډو په سیمو کی دخلګو لخوا منل شوی سیمه ایز کلتور تر پښو لاندی کوی او لدی کبله دامریکا دښمنان دنړی به کچه زیاتوی. ددغو خبرو او نیمګړتیاوو ډیره ښه بیلګه اوسامه بن لادن دی چی په لومړی سرکی دامریکا تر ټولو ښه دوست وو، هغه یی دساړه جنګ پروخت و روزی، نړیوال شهرت یی ورکړ او په پای کی ددغو پوځی اډو دشتون پر سر چی په سعودی عربستان کی پاتی دی، دامریکا سره په مخالفت کی ودریدی او دلستونی د مار په توګه یی تر ټولو ستر او نه پخلا کیدونکی دښمن وګرځیدی . . . ) .
لوړی خبری دانترنیتی سرچینو څخه تر لاسه شوی مالومات دی چی دخپل کمپیوټر په ارشیف کی می تر سترګو شو او د لوستونکو سره می شیریک کړ. اوس به نوبیرته خپل هیواد افغانستان راشو او دهغو امریکایی اډو په اړه په وړغیږو چی د ځای پر ځای کیدو وړاندیز یی داګړی درسنیو ږیړه سرلیکونه جوړوی :
ددی دپاره چی خبره لا نور هم اوږده نشی، ښه به داوی چی ددی ډول اډو مثبت او منفی اړخونه تر نظر تیرکړو، داځکه چی یو عینی قضاوت و هر اړخیزو کتو ته اړتیالری. زما په اند ددی مسئلی دمثبتو اړخونو غټ ټکی به داوی.
۱ – په سیاسی برخه کی :
الف – د هیواد د سولندو ( حریصو ) ګاونډیانو چی تل یی ددی اولس سره دښمنی کړیده ، دمستقیمو لاس وهنو څخه به یی تر یوی کچی مخنیوی وشی .
ب – پدی توګه به داخلی ټیکاو لړاطمنانی شی او په هیواد کی به دکودتاګانو دلاری د واک ترلاسه کول د وسلوالو له اجندا نه ووځی. داخبره پدی خاطر هم مهمه ښکاری چی دملی اردو پنامه دافغانستان اوسنی وسلوال قوتونه اصلا بیلابیلی تنظیمی ډلی دی ، ملی اړخ یی خورا کمزوری دی او که اړتیا ووینی ، هرګړی کولای شی عسکری یونیفورم وغورځوی او په بدل کی یی پکول پر سرکړی . ځکه نو ددغو تنظیمی استازو په وجود کی دټیکاو تمه کول یوخوشی خوب او خیال دی.
۲ – په اقتصادی برخه کی :
الف – دټیکاو په شتون کی کیدلای شی اقتصادی مرستی جذب او دبیا رغونی پروژی په کار ولویږی .
ب ـ پدی صورت کی خارجی پانګوال ډاډه کیږی چی په هیواد کی دمتالورژی ، کانو ، پتروشیمی او نورو اړینو برخو کی و پانګی اچونی ته زړه ښه کړی .
ج – دترکمنستان دګازو پایپلاین ، دتاجکستان څخه دبرقی انرژی ترانزیت او نوری داډول پروژی کولای شی خلګو ته دکارکولو لاره پرانیزی .
که لوږ څو ټکی مثبت اړخونه بللای شو ، خولاندی ټکی هم باید دمنفی اړخونو په توګه له یاده و نه باسو :
۱ – لکه څنګه چی مو دانترنیټ څخه په ترلاسه شوی مالوماتو کی ولوستل په امریکایی اډو کی نظامی پرسونل کولای شی افغانی کلتور ترپښو لاندی او اخلاقی فسادونه ترویج کړی .
۲ ـ ددغو اډو دلاری کیدلای شی دافغانانو له منځ نه بیشمیره جاسوسان و روزل شی .
۳ ـ داوس پشان به توپکماران ددوی تر سیوری لاندی نورهم چاغ شی .
۴ ـ په ولایتونو کی به چاروکی د مرکزی دولت په وړاندی بی پروایی ته وهڅول شی او دفدرالیزم به لور به یی تحریک کړی .
۵ – قومی توپیرونو ته لا نوره هم لمن ووهل شی او دملت جوړولو پروسه به کمزوری کړی .
۶ ـ په هیواد او ګاونډی هیوادونو کی چی ټول وګړی یی مسلمانان دی ، ددوی پرضد به یی احساسات راوپارول شی.
۷ – افغان دښمنه ګاونډیان به په پټو هڅونو او لاسوهنو لاس پوری کړی او تروریزم ته به لمن ووهی .
۸ – داچی امریکا تل د پاکستان په وړاندی دوه مخی سیاست مخته بیولی ، نو داکار به د اډو دشتون پروخت دهند هیواد لا نور هم خفه کړی .
۹ – دسیمی زورور زبرځواکونه لکه روسیه او چین به ناراضه او دخپلو افغانی خواخوږیانو دلاری به لمسونی پیل کړی .
۱۰ – یاد شوی ټکی او ورته نوری خبری به دافغانستان او ګاونډیانو تر منځ مناسبات لانور هم خړپړ کړی.
ددغو ټولو یادو شوو خبرو سره سره دامریکایی اډو په هکله باید یوازی هغه وخت پریکړه وشی چی دطالبانو سره د روغی جوړی خبره خپل وروستنی پړاوونه تیر کړی او پدی تړاو ټولی ستونزی له منځه تللی وی. که فرضا ان داسی هم وګڼو چی نوموړی اډی دهر ډول منفی اړخونو څخه خلاصی او یوازی مثبتی خواوی لری، نو دامثبت اړخونه


افغان جرمن آنلاین په دربنت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

هغه وخت په درد خوړلای شی چی په وطن کی امنیت او ارامی وی . امنیت او ارامی لکه څنګه چی پخبله دامریکا او ناټو پوځی پوهان ودی نتیجی ته رسیدلی دی، یوازی دسیاسی لاری نه دمیز پر سر ترلاسه کیدلای شی نه دباروتو په زور د جنګ په دګر کی . تر څو چی دطالبانو سره جوړ جاړی منخته راغلی نه وی بیا نو د اډو په اړه د وړاندیز په منلو کی د اولس نظر مانا نلری. داځکه چی طالبان داوسنی کشالی اساسی اړخ دی. دابه ډیر بیځایه کار وی که چارواکی پدی امید اوسی چی امریکایی پوځی اډی به دطالبانو په ماتولو او دامنیت په راوستلو کی مرسته وکړی. که دا اډی دلته ځای پرځای هم شی نو هلته به وسله وال پوتنشیال او جنګی وړتیا هیڅکله هم لدی جګه نه وی چی داګړی یی د ۴۳ هیوادونو څخه د۱۵۰ زرو عسکرو په مټ لری او په وړاندی یی طالبان ورځ تر بلی په زورور کیدو دی. لنډه داچی دامریکایی اډو په اړوند باید پریکړه یوازی دسولی او امن په شرایطو کی ونیول شی چی هلته په یوی فوق العاده پراخی لویی جرګی کی دطالبانو په ګډون دټولو قومونو ربښتینی استازی برخه ولری، کنه نو دا به دیوی بلی کشالی پیلامه وی او بس .

پای


افغان جرمن آنلاین په دربښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ